# قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس کې دی، چې دا سورت د قرآن د دریمې برخې سره برابر دی

له ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې: يو سړي واوريدل چې سړي بار بار {قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ} لوسته، نو کله چې سهار شو، رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او د دې عمل يادونه يې ورته وکړه، داسې و لکه دا عمل چې د هغه سړي په اند لږ و، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل:«قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس کې دی، چې دا سورت د قرآن د دريمې برخې سره برابر دی».

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

ابو سعيد الخدري رضى الله عنه وايي چې يو سړي د بل سړي څخه واړېدل چې: {قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ} سورت يې بار بار ټوله شپه تلاوت کاوه او له دې يې زيات هيڅ نه لوستل، نو کله چې سهار شو، رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راغی او د دې خبرې يادونه يې وکړه، داسې ښکاريده لکه چې دا عمل د پوښتونکي له نظره لږ وي، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته سوګند ياد کړ چې پدې عمل تاکيد کوي او ويې فرمايل: قسم په هغه ذات چې زما نفس د هغه په لاس کې دی چې دا سورت د قرآن کريم د يو پر دريمې برخې سره برابره ده.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/65261